پوهاند زیار

# د باد پروزرو

یوګوربت یم دوپلاړ،له دنګوغرونو رااﻟوتی
نه دچا د دانې ښکاراو،نه دچاپه دام کې نښتی

دتاریخ نیاوتون مې للي،سپیناوی په هسکه غاړه
نه مې سترګې چاته ټیټې، نه دچاپښنوته پرېوتی

څه د وخت ټکی برګۍ او، څه زما رښتینولي وه
که پر دا دومره سپین نمرو، دېوتایانو یم تېروتی

که مې څه هم دی برخلیک،دښنو د باد پروزرو کښلی
خوله خپلې مینې هوډ،اورین ارمان نه یم جاروتی

دتوپان مرغه په شان کښم،خپله لار په غرڅپوکې
نن سباکه یم په بوښته،دبخولوکې کښېوتی

په تورتم کې مابلینده،بله ساتلې دسره شعر،
دازمون له سرې بتې،لکه پولاد مخسور راوتی!

ډنمارک،٦-١٠-٢٠٠٠

*www.ayenda.org*